(۱) دَ آزادۍ نه مخکښې مسلمانانو یوه پارټی جوړه کړه۔ (۱) کانګرس (۲) عوامی لیګ (۳) مسلم لیګ (✓)
(۲) دَپټنه په مقام دَ مسلم لیګ غونډه شوې وه۔
(۱) په کال 1938 کښې (✓) (۲) په کال 1939 کښې (۳) په کال 1947ء کښې۔
(۳) دَ پنجاب دَ اسلامیه کالج جینکو قائداعظم ته بلنه ورکړې وه۔
(۱) په کال 1942ء کښې (✓) (۲) په کال 1945ء کښې (۳) په کال 1944 کښې
(۴) دَ پاکستان جوړېد وپه وخت څومره ښځې مسلم لیګ کښې شاملې وې۔
(۱) شل زره (۲) پینځویشت زره (۳) پینځلس زره (✓) (۴) دېرش زره
(۵) دَپاکستان دَ ورومبۍ قانون سازۍ اسمبلۍ غړۀ وه۔
(۱) 72تنه (✓) (۲) 100تنه (۳) 50تنه (۴) 70تنه

سوال نمبر۴۔ په لاندینو تورو اعراب وُلیکوئ۔

پَټْنَه۔ عَلِی گڑ۔ اِنتِخَابَاتُ۔ نُمَائِنْدَګِی۔ فَاطِمَه جِنَاح۔

..................

فقیر ایپی

Scanned with CamScanner

سوال نمبرا۔ دَلاندینو سوالونو جوابونه وُلیکئ۔

(ا) فقیر ایپی څوک وهٔ؟

جواب: فقیر ایپی دَ آزادئ جنګیالے اؤ په آزادئ مئین یو آزادهٔ خوښے وهٔ۔

(۲) خدائۍ خدمت ګار قاضی فضل قادر چاوژلے وه؟

جواب: خدائۍ خدمت ګار فضل قادر انګریزانو وژلے وؤ۔ اؤ دَ ده مړے یې دَ بنوں په جېل کښې ښخ کړے وؤ۔

(۳) دَ آزادئ تحریک کله سرته اورسېدهٔ؟

جواب: دَ آزادئ تحریک په کال 1947ء کښې سرته اورسېدهٔ

(۴) پېرنګیانو مسلمانان ولې ګرفتارؤل۔

جواب: پېرنګیانو مسلمانان ځکه ګرفتارؤل چې هغوئ آزادئ غوښتله۔

(۵) دَ پېرنګی فوځ افسرانو خپل ځانونه ولې وژل؟

جواب: دَ پېرنګی افسرانو ځانونه ځکه وژل چې دوی په یوه قلا کښې چې دَ ختو جوړه وه۔ په مغې کښې یې بندیوان ژوند تېرؤلو نودوی دغلته تنګ وؤ۔ اؤ کله به په ځان پوهه نه شول اؤ دَ غصې نه به یې خپل ځانونه وژل۔ اؤ دَ ښځتنو له وېرې به یې هم ځانونه وژل۔

(۶) دَ فقیر ایپهٔ دَ وسلوال جدوجهد مطلب څه وؤ؟

جواب: دَ فقیر ایپهٔ دَوسلوال جدوجهد مطلب داوؤ چې پېرنګیان کله واخلهٔ اؤ ځانهٔ خلق آزاد شهٔ۔

سوال نمبر۲۔ دَ مناسبو تورو په مرسته خالهٔ ځایونه ډک کړئ۔

(ا) دَ فقیر ایپی دَ پلار نامه ارسلا خان وه۔

(۲) دَ قاضهٔ فضل قادر مړے دَبنوں جېل کښې خاؤروته وُسپارلے شهٔ۔

(۳) دادَفقیر ایپهٔ غوندئ مشرانو برکت دے۔

(۴) بنوں کښې یوه قلا وه چې دیوالونه یې دَ ختو جوړ وؤ۔

سوال نمبر۳۔ لاندینهٔ تورهٔ په خپلو جملو کښې استعمال کړئ۔

جواب:

| په جملو کښې استعمال | تورې |
|---|---|

Info Hub HRMS SIS SED

Scanned with CamScanner

| | |
|---|---|
| باچانی | انګریزانو په ټول هند او دَ دنیا په ډېرو ملکونو باچائی کوله |
| مبارزه | خدائی خدمت ګارو په تش لاس دَ آزادۍ دَپاره مبارزه کوله۔ |
| پېرنګے | هغه وخت پېرنګے دَ دنیا واحد سوپر پاور وو |
| خدائی خدمت ګار | دَ آزادۍ په تحریک کښې دَ ټولونه زیات فعال کردار خدائی خدمت ګار تحریک اداکړے دے۔ |
| تحریک | دَپاکستان تحریک په کال 1947ء کښې سرله اورسېدو۔ |
| خاوره | خپله خاوره خپل اختیار۔ |
| آزادۍ | آزادۍ دَ هر انسان بنیادي حق دے۔ |
| سامراج | پېرنګۍ سامراج په زیاتو ملکونو قبضه کړې وه۔ |

## پښتو اکیډیمی

سوال نمبر۱۔　　دَلاندینو سوالونو جوابونه وُلیکئ۔

۱)　پښتو اکیډیمی کله او کوم ځائے جوړه شوې ده؟

جواب:　پښتو اکیډیمی په کال 1955ء کښې په پېښور یونیورسټۍ کښې قائمه شوې ده۔

۲)　دَ پښتو اکیډیمۍ وړومبے ډائرکټر څوک وو؟

جواب:　دپښتو اکیډیمۍ وړومبے ډائرکټر مولینا عبدالقادر وو۔

۳)　پښتو اکیډیمی دَ کومو زړو شاعرانو دیوانونه چاپ کړه دی؟ صرف دَ دریو شاعرانو مونه وُلیکئ۔

جواب:　پښتو اکیډیمۍ دَ پښتو دَ ډېرو زړو شاعرانو دیوانونه چاپ کړی دہ۔ لکه دَ معزالله خان مومند دیوان۔ دَمصری خان ګګیانی دیوان۔ دَخواجه محمد دیوان۔ دَ کریم داد دیوان۔ دَ ارزانی کلیات۔ دَنجیب سرهندی دیوان او داسې نور۔

۴)　دَ ترجمو کار پښتو اکیډیمۍ ډېر کړے دے۔ پښتو دَ ترجمه شوو دریو(3)کتابونو نامې وُلیکئ۔

جواب:　پښتو اکیډیمۍ دَ ډېرو کتابونو پښتو کښې ترجمې کړه دہ لکه (۱) دَ شبلی نعمانی سیرات النبی (۲) دَارسطو کتاب الشعر (۳) دَ تواریخ حافظ رحمت خانۂ پښتو ترجمه۔

۵)　په پښتو اکیډیمۍ مختصر نوټ وُلیکئ۔

جواب:　پښتو اکیډیمی په بنیادي توګه تحقیقی اداره ده۔ زړۂ کتابونه مرتب کوُل۔ دَ ځنۂ علمی او ادبی کتابونو پښتو ترجمې کوُل۔ دَ پښتو زړې قلمۂ نسخې راغونډول او محفوظول۔ او دَ یوې لوې لائبریرۍ موجودګۍ پښتو اکیډیمۍ ته ډېر زیات شهرت ورکړے دے۔ پښتو اکیډیمۍ ډېر علمی۔ تحقیقی۔ ادبۍ او مذهبۍ کتابونه دَ عوامو دَ مطالعۀ دَپاره تیار کړه دہ او دَ علم سره دَ مینه لرونکو یۀ علمی تنده سره کړې ده۔

۶)　پښتو اکیډیمۍ اردو کښې کوم کوم کتابونه ترجمه کړي دی؟

جواب:　پښتو اکیډیمۍ اُردو کښې دَ رحمان بابا دیوان ۔ دَ خوشحال خان خټک کلام۔ او دَ سراولف کېرو کتاب "پٹھان" اردو کښې ترجمه کړی دی۔

سوال نمبر۲۔　　لاندینو جملو کښې فعلونه وُلټوئ او دَ دغه فعلونو مصدرونه وُلیکئ۔

۱)　ماچې هغه په کلاس کښې ولیدو، نو سبق یې لوستو۔　فعل لوستو او دَلوستو مصدر لوستل

۲)　کله چې هغه ماته وکتل نو حوصله یې په ځائے شوه۔　فعل وکتل او دَ وکتل مصدر کتل

Info Hub HRMS SIS SED

Scanned with CamScanner

(۳) هغه ماته په غوږ کښې یوه پټه خبره وکړه۔
(۴) ابدال اوس هم ماسره رابطه ساتۀ۔ فعل وکړه اؤ دَ وکړه مصدر کوُل
(۵) خدائے زده چې دَ هغه رنګ ولې تبنتېدلے وؤ۔ فعل ساتی اؤ دَ ساتی مصدر ساتل
فعل تبنتیدلے اؤ دَ تبنتیدلے مصدر تبنتېدل

سوال نمبر۳۔ دَدې تورو اپوټه ولیکئ۔
جواب:

| توری | باندې | شروع | جدید | شته | لږ | سخت | وروستو |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| اپوټه | لاندې | خاتمه | قدیم | نشت | ډېر | نرم | وړاندې |

زما کوټ

سوال نمبر۱۔ دَ لاندینو سوالونو جوابونه ولیکئ۔
(۱) شاعر دَکوم کوټ ذکر کړے دے؟
جواب: شاعر دَ خپل کوټ خبره کوی چې په کباړ کښې یې اخستے وؤ۔
(۲) کباړی کوټ ولې ارزان وۀ؟ جواب: کباړی کوټ ځکه ارزان وۀ چې یو ځل استعمال شوے وۀ۔
(۳) دَ دې نظم مطلب څۀ دے؟
جواب: دَ نظم دوه مقصده دی (۱) یو خو دا چې زمونږ خلق غریبان دۀ نوې جامې اؤ پېزارنۀ شۀ اخستے ځکه نوزاړۀ اؤ کباړۀ څیزونه اخلی (۲) دوئمه داچې نظم کښې دَ توقو انداز خپل کړے شوے دے۔ چې سره دَ خپل خراب حالت بیانؤلو بنده له خندا ورولۀ۔

سوال نمبر۲۔ دَدې شعر مختصره تشریح وکړئ۔

هـائې افسوس پښتـو مـې پرېښـوه کـنـۀ مـاتـه
تـۀ بـه لاندې لـه خـامـتـاوې زمـا کـوټـه

جواب: په دې شعر کښې شاعر وائۀ چې مونږ کښې اوس قومی غیرت اؤ خوددارۀ نه دۀ پاتې۔ اؤ که چرې په مونږ کښې قومی غیرت اؤ خود دارۀ وۀ نو دَکباړۀ کوټ به مې له خپلې خامتا (شډلې کپړۀ) نه کم ګڼلو۔

سوال نمبر۳۔ تاسو دَ خپل ځانه یو مزاحیه شعر ولیکی۔
جواب: مزاحیه ټپه

دَ اوښ پـرتـوک چـرګـوری یـوړو
کـونـکـټ پـه بـرېـتـو لاس وهی چې رابـه ئې وړمـه

سوال نمبر۴۔ دا تورۀ په خپلو جملو کښې استعمال کړئ۔
جواب:

| توری | په جملو کښې استعمال |
|---|---|
| دانا | څوک چې هوښیار اؤ داناوی وخت نه ضائع کوۀ۔ |
| قلم | هر یو قلم دَ دے جوګه نه وۀ چې ؤدې کتے شۀ۔ |
| لیلا | په پښتو کښې دَ مجنون لیلا داستان ډېر مشهور دے۔ |
| یورپ | په براعظم یورپ کښې ډېر ترقی یافته ملکونه شامل دۀ۔ |

Scanned with CamScanner

| | |
|---|---|
| دلربا | چې زړه خوشحالوۀ نو هم هغه دلرباوۀ۔ |
| لستونی | دَ قمیص لستونی لاس دَ موسم دَ شدت نه محفوظ ساتۀ۔ |
| خامتا | هغه رخت (کپړه) چې په کورونو کښې په کډې جوړولې شۀ خامتا یې بلی۔ |

سوال نمبر۵۔ په دې شعر کښې قافیه په ګوته کړئ۔

خدائے خبر دے چې دَ چاوې زما کوته
دَ جاهل که دَ دانا وې زما کوته

جواب: په دې شعر کښې "چا" او "دانا" قافیې دۀ۔

سوال نمبر۶۔ دَدې تورو واحد او جمع ولیکئ۔

| واحد | جاهل | تخته | کوټ | قلم | کباړۀ | بنډل |
|---|---|---|---|---|---|---|
| جمع | جاهلان | تختې | کوټونه | قلمونه | کباړیان | بنډلونه |

په لوظ ټینګ زلمے

سوال نمبر۱۔ دَ لاندینو سوالونو جوابونه ولیکئ۔

(۱) حضرت عمر فاروقؓ زلمۀ ته ولې دَ مرګ سزا واوروله۔

جواب: دغه زلمۀ مرګ کړے وو۔ نو حضرت عمر فاروقؓ ورته دَ مرګ سزا واوروله۔

(۲) زلمۀ ته خپلو خپلوانو څۀ مشوره ورکړه؟

جواب: زلمۀ ته خپلو خپلوانو مشوره ورکړه چې واپس مدینې ته مۀ خه۔

(۳) زلمۀ په څۀ وجه سپین ږیرے وژلے وو؟

جواب: زلمۀ له دَ خپل اوښ په وژلو قهر ورغے بوډاسړۀ دَهغه اوښ وژلے وو۔ زلمے په غصه شۀ بوډا دَمرې نه وینوو۔ او چې په ځان پوهېده نو بوډا یې وژلے وو۔

(۴) که چرې زلمے بې لوظه شوے وے نو بیا به څۀ کېدل؟

جواب: چاچې دَ زلمۀ ضمانت کړے وو سزا به هغۀ له ورکولے شوه۔

(۵) زلمۀ دَ سورلۍ دَپاره دَ تېز اوښ انتخاب ولې وکړو؟

جواب: زلمۀ دَ سورلۍ دَپاره دَ تېزې اوښې انتخاب څکه وکړو۔ چې زر تر زره مدینې ته اورسۀ۔

(۶) دَسزا اورولونه پس زلمۀ ته په څۀ وجه دَیوې هفتې مهلت ورکړے شو؟

جواب: دَسزا اورولونه پس زلمۀ ته دَ پور خلاصولو دَپاره دَ یوې هفتې مهلت ورکړے شۀ۔

سوال نمبر۲۔ دَ لاندینو تورو اپوټه ولیکئ۔

| توره | قهر | زمکه | ناآشنا | زلمے | مرګ | سوال | خوشحاله |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| اپوټه | رحم | آسمان | آشنا | بوډا | ژوند | جواب | خفګان |

سوال نمبر۳۔ په ټیک یا غلط جواب د (✓) نخښه ولګوئ۔

۱۔ عدالت کښې حضرت عمر فاروقؓ ناست وه۔ ټیک (✓) غلط

۲۔ حضرت ابوذر غفارۀؓ دَ زلمۀ ضمانت وکړو۔ ټیک (✓) غلط

۳۔ زلمے په خپل لوظ ټینګ پاتې شۀ۔ ټیک (✓)/غلط

Info Hub HRMS STS SED

Scanned with CamScanner

۴۔ زلمة قتل نه وۀ کړے۔ ټیک /غلط( ✓ )

۵۔ زلمة ته دَ مرګ سزاواوړولے شوه۔ ټیک( ✓ )/غلط

۶۔ زلمے دَقتل په تور وۈژلے شۀ۔ ټیک/غلط( ✓ )

۷۔ دَ زلمة په راتلو دَ مدینې خلق حیران شو۔ ټیک( ✓ )/غلط

..............................

## عجب خان آفریدے

سوال نمبر۱۔ دَ لاندینو سوالونو جوابونه ولیکئ۔

(۱) عجب خان اپریدے څوک وۀ؟

جواب: عجب خان دَدره آدم خېل دَ بوستي خېلو افریدو سره تعلق لرلو۔

(۲) دَ پېرنګیانو په وخت کښې چاد کوهاټ په پولیس لائن حمله کړې وه؟

جواب: دَ کوهاټ په پولیس لائن دَ آزادۍ مجاهدینو حمله کړې وه۔

(۳) مِس اهلس چاتښتولې وه؟

جواب: مِس ایلس عجب خان اپریدۀ اؤ دَهغه ملګرو تښتولې وه۔

(۴) دَ عجب خان اپریدۀ آخرة شپة ورځې چرته تېرې شوې وې؟

جواب: دَعجب خان اپریدې اخرة شپة ورځې دَ افغانستان په مېمنه ښار کښې تېرې شوې وې۔

(۵) دَ عجب خان اپریدۀ په بهادرۍ یو څو جملې ولیکئ۔

جواب: عجب خان اپریدے په آزادۍ مئن وۀ۔ پېرنګیانو دَ هغۀ په غېر موجودګۍ کښې دَ هغۀ دَ۔ کورتالاشۀ کړې وه اؤ دَهغه دَ زنانه ونۀ بې سترة کړې وه۔ نو عجب خان پېرنګیانو ته خبر ورکړو چې زه به ارُومرو خبل بدل اخلم۔ اؤ عجب خان هم داسې وکړل هغه دَ شپې دَ کوهاټ چاونۍ ته لاړو اؤ دَ مېجر ایلس لور پېغله اهلس یې راوسته، اؤ چې دَهغې مور مزاحمت کوُلو نو هغه یې هم په هغۀ ځائے اووژله۔ دا واقعه په پېرنګیانو ډېر سخت ګذاروه۔ عجب خان خپله پښتو ترسره کړه۔

سوال نمبر۲۔ دا توره په خپلو جملو کښې استعمال کړئ۔

| توری | په جملو کښې استعمال |
|---|---|
| پښتانۀ | په افغانستان خېبر پښتون خوا اؤ بلوچستان کښې پښتانۀ آباد دۀ۔ |
| پولیس | دُخلقو دَ ځان اؤ مال حفاظت دَ پولیس ذمه دارة ده۔ |
| پېرنګے | آزادة خوښو پېرنګے دَ هندوستان نه بهر کوُلوته مجبوره کړه۔ |
| استوګن | عجب خان اپریدے دَ دره آدم خېل سره خواکښې د۔یو کلی استوګن وۀ |
| نرتوب | دَ عجب خان اپریدۀ نرتوب تراوسه پورې ستائېلے شۀ۔ |
| کوهاټ | کوهاټ دَ خېبر پښتونخوا په ښائسته ښارونو کښې یو دے۔ |

(۵) مترادف توری ولیکئ۔

| توری | مېړنے | ننګ | مال | جاسوس | اطلاع | تکلیف | ژوند |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| مترادف | بهادر | غېرت | دولت | مخبر | خبردارے | کړاؤ | حیات۔ زندګه |

سوال نمبر۶۔ دَ کالم "الف" توره دَ کالم "ب" تورو سره په کالم "ج" کښې جوړه کړئ۔

| کالم "الف" | کالم "ب" | کالم "ج" |
|---|---|---|

Info Hub HRMS SIS SED

Scanned with CamScanner

| | | |
|---|---|---|
| ننګیالے | قبیله | ننګیالے۔ عجب خان اپریدے |
| کوهاټ | توپکي | کوهاټ۔ پولیس لائن |
| بوستة خیل | علاقې | بوستی خیل۔ قبیله |
| یولس ډزې | پښتون | یولس ډزې۔ توپکي |
| قبائلة | پولیس لائن | قبائلة ۔ علاقې |
| بهادر | عجب خان اپریدے | بهادر۔ پښتون |

## مېلمستیا

سوال نمبر١۔ دَلاندینو سوالونو جوابونه وُلیکئ۔

(١) استاذ جة ولې ساده خوراک خوښؤلو؟

جواب: استاذ جة ساده خوراک ځکه کؤلو چې ساده خوراک دَ صحت دَپاره ضرورة وة۔

(٢) استاذ جې په مېلمستیا کښې دَ شرکت دَپاره څهٔ شرط اېښے وؤ؟

جواب: استاذ جة په میېلمستیا کښې دَ شرکت دَپاره دا شرط اېښے وؤ۔ چې هر څوک به دَ خپله کوره تیار ځېزونه راؤړة۔

(٣) دَسیندپه غاړه چائے ولې مزې داره وة؟

جواب: دَسیند په غاړه چائے ځکه مزې داره وه چې یو خوورته دوة ستړة شوة وؤ۔ اؤ بل دایې په خپل محنت پخه کړة وه۔

(٤) شاګردان دَسیند غاړة له په څهٔ کښې لاړل؟

جواب: شاګردان دَسیند غاړة له په خپلو پښو لاړل۔

(٥) دَبانګ په اورېدو استاذ چې ولې غلے شو؟

جواب: دَبانګ په اورېدو دَ بانګ په احترام اؤ درناوة کښې استاذ جة غلے شو۔

سوال نمبر٢۔ لاندینة تورة په خپلو جملو کښې استعمال کړئ۔

| توری | په جملو کښې استعمال |
|---|---|
| لمده بل | روټۍ اؤ ورسره لمده بل (ترکاری) ساده پکار وة۔ |
| پخګړے | دَ هر یو پخګړی خپل خوند اؤ خپله مزه وة۔ |
| مېلمه | مېلمه دَ الله تعالیٰ رحمت دے۔ |
| اعزاز | په لوبو کښې خیبر خان دَ خپل سکول دَپاره اعزاز تر لاسه کړو۔ |
| اېشمه | دَ وریځو دَ راتللو سره نرۍ اېشمه شروع شوه ۔ اؤ موسم یې خوشګواره کړو۔ |
| مېزرے | دَ پښتو نخواپه څنې علاقو کښې دَ مېزرې ځنګلونه دة۔ |
| ډوډۍ | حکیمان وائة چې ډوډۍ هله خورئ چې کله ښه اوږے شئ۔ |

سوال نمبر ٣۔ دَمناسبو تورو په مرسته خالة ځایونه ډک کړئ۔

١۔ نوے استاذ دَ اصولو سړے وؤ۔ ٢۔ اخر استاذ جة په دې رضا شو۔

٣۔ ننۍ ورځ دَ تکلفاتو نه بېخة خالة ده۔ ۴۔ اول وُخوره دَ ځان غوښې بیا وُخوره دَښکار غوښې

۵۔ دَ استاذ جة نظر په ساګ اؤ سکړک لګېدلے وؤ۔ ٦۔ ژوند کښې چرې هم دَ تن آسانۍ نه کار مهٔ اخلئ۔

.................

## دَ ملګرې په نوم خط

سوال نمبر١۔ دَ لاندینو سوالونو جوابونه وُلیکئ۔

(١) نتیا ګلۍ دَ کومې صوبې یوه ښکلة سیمه دة؟

Info Hub HRMS STS SED

Scanned with CamScanner

جواب: نتیا کلې دَ خیبر پښتون خوا یو ښکلې سیمه ده۔

(۲) دَ ښائسته کل پلار چرته هیډ ماسټر وؤ؟

جواب: دَ ښائسته کل پلار په نتیا کلې کښې هیډماسټر وؤ۔

(۳) دَ پېښور پوهنتون کېمپس کوم ځائے دے؟

جواب: دَ پېښور پوهنتون کېمپس په باړه کلې کښې دے۔

(۴) لفټ کوم ځائے کښې وؤ؟ جواب: لفټونه په ایوبیه کښې لګېدلے وؤ۔

(۵) شادوګان په وُنو کښې څۀ کوۀ؟

جواب: شادوګان په وُنو کښې کرځۀ اؤ دَ خپل خوراک لټون کوۀ۔

سوال نمبر۲۔ لاندینۀ تورۀ په خپلو جملو کښې استعمال کړئ۔

جواب:

| توری | جملو کښې استعمال |
|---|---|
| پښتو | په دنیا کښې ډېرې ژبې دۀ اؤ پښتو پکښې هم یوه زړه ژبه ده۔ |
| کرمۀ | زمونږ په وطن کښې کرمۀ اؤ یخنۀ دوه اهم موسمونه دۀ۔ |
| کېمپس | دَیونیورسټۍ دَ کرمۍ کېمپس په باړه کلې کښې دے۔ |
| هیډماسټر | دَسکول هیډ ماسټر یو شریف اؤ قابل انسان وؤ۔ |
| کالوسر | دَ څنۀ غرونو په سرکالوسر واؤرې پرتې وۀ۔ |
| پرہمانه | په کلیاتو کښې پرہمانه وُنې اؤ ځنګلونه دۀ۔ |

سوال نمبر۳۔ ټیک جملې ته مخې ته ټیک اؤ غلطې جملې ته مخامخ غلط وُلیکئ۔

۱۔ ښائسته کل دَ مینګورې نه ایمل ته خط لیکلے وؤ۔ (غلط)

۲۔ نتیا کلې دَ سیل سپاټې دَپاره یو ښکلے ځائے دے۔ (صحیح)

۳۔ دَکشمیر جک جک غرونه صفالیدے شۀ۔ (صحیح)

۴۔ سېلانیان دوۀ ته دَخوراک څیزونه نۀ وراچوی۔ (غلط)

سوال نمبر۴۔ خپل پرنسپل صاحب ته دَ چوټۍ اخستو دَپاره درخواست وُلیکئ۔

په خدمت کښې دَ ښاغلی پرنسپل صاحب دَ ګورنمنټ هائی سکول خوشبکۀ بالا

جناب عالی!

ډېر په ادب سره عرض کوؤم چې ډېر یو ضروری کار راته پېښ شوے دے چې دَهغې په وجه راته دَ یوې ورځې دَپاره چوټۍ راکړئ۔

ډېره ډېره مننه

لیک نېټه 28اپریل کال2012ء

عرض کونکے

ستاسو تابعدار شاګرد معاذ محمد ترین ـدَ شپږم ټولګۀ رول نمبر 15 ګورنمنټ هائی سکول خوشبکۀ بالا

سوال نمبر۵۔ دَدې ټکو مترادف وُلیکئ۔

| ټکی | نثر | سنجیده | قیصې | صلاحیت | مشال | بحث | کرمی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| مترادف | په ساده الفاظو کښې | عقل مند | داستان | قابلیت | لیت | تکرار | تاؤ |

## ګرائمر

سوال نمبر۱۔ دَجوړښت په لحاظ دَ اسم قسمونه:۔

دجوړښت په لحاظ دَاسم درې قسمونه دی (۱) جامد (۲) مصدر (۳) مشتق

Info Hub HRMS SIS SED

Scanned with CamScanner

(۱) جامد اسم: هغه وه چې نه خو خپله دَ بل ټکۍ نه وتلې وه او نه ترې نور ټکۍ (کلمې) جوړيږي.
لکه منه. قلم. دوات. او خښې نور

(۲) دَ مصدر اسم: هغه اسم ته وائي چې په خپله خو دَ بل ټکۍ نه نه وه وتلې خو نور ټکۍ ترې نه جوړيږي لکه ټتل. وژل. دَ بل ټکۍ نه نه دي وتلي. خو دَ دوئ نه نور ډير ټکي جوړيږي لکه کتنه. کاته. کتونکے. ګورم. وَدي کاته. وَدي وژلم. وژلے. وژني به.

سوال نمبر۳. دَ مشتق اسم: هغه اسم ته وائي چې دَ مصدرونه وتلے وه. لکه ليکونکے. ليک. او کړکړونده. چې دَليکل او کرل مصدرونو نه جوړشوه دَه.

نعل:

نعل هغه کلمې ته وائي چې دَ څه چارې دَ کېدو يا نه کېدو اظهار ترې کيږي خو چې دَ زماني تعلق هم ورسره وه (۱) لکه تا خط وليکه (۲) ته خط ليکے (۳) ته به خط ليکے.

په دې جملو کښې دَ خط ليکلو کارشوے دے. او دَ زمانې سره يې هم تعلق شته دے. دَ وړومبې جملې نه تېره شوې زمانه دَ دوئمې جملې نه موجوده زمانه او دَ دريمې جملې نه راتلونکې زمانه څرګنديږي.

لازم او متعدۀ:.

نعل لازم: فعل لازم هغه فعل وه چې مفعول نه غواړۀ. او متعدی فعل دَ فاعل نه علاوه يو يا زيات فعلونه هم غواړي. لازم فعلونه دَ لازم مصدرونو نه او متعدی فعلونه دَ متعدی مصدرونونه جوړيږي. دَلازم فعل نه متعدی فعل جوړولو دَپاره اول دَدغه لازم مصدر نه متعدی مصدر جوړولے شۀ. او بيا ترې مطلوبه فعل او دَ هغې جملې جوړيږۀ.

ماضی. حال او مستقبل

(۱) ماضۀ: دَ ماضۀ فعل هغه وه چت په تېره زمانه کښې شوے وه. لکه هغه راغے. ته ماليدلے وے.

(۲) فعل حال: هغه فعل ته وائۀ چې دَ کېدلو يا دَنه کېدلو تعلق يې دَ حال يعنی موجوده يا روانې زمانې سره وه لکه زۀ خاندم. هغه ليکی. ته نه راځې. او داسې نور

(۳) مستقبل: هغه فعل ته وائۀ چې دَ څه کار کولو يا دَنه کولو تعلق يې راتلونکۀ زمانې سره وه. لکه زۀ به خم. هغه به راځې. او داسې نور

دَضمير اسم

دَ ضمير اسم دَ معرفې دَاسم يو قسم دے. دَ ضمير اسم هغه کلمې ته وائۀ چې دَ بل اسم دَپاره استعمال شوے وه. دَضمير دَ اسم فائده او غرض داوۀ چې په کلام کښې يونوم بيابيا رانه شۀ. او په کلام کښې اختصار هم راوستے شۀ.

(۱) هغه ضميرونه چې داسې کسانويانومونو دَپاره استعمال شوے وه. څوک چې دَ کلام (خبرو) په وخت موجود نه وه. دَغائب ضميرونه بللے شۀ. دَ دے دوه قسمه دی (۱) واحد (۲) جمع لکه هغه. هغوی.

(۲) هغه ضميرونه چې دَداسې کسانو يا نومونو دَپاره استعمال شی څوک چې دَکلام (خبرو) په وخت په موقع خو موجود وه. خو ويونکے خبرې بل چاسره کوۀ. يعنې دوۀ يې مخاطب نه وه. دَ حاضر (ياڈ غائب قريب) ضميرونه بللے شۀ. لکه دے. دوی. دا

(۳) هغه ضمير ونه چې دَ داسې کسانويا نومونو دَپاره استعمال شوے وۀ چاسره چې څه کلام (خبرې اترې) کيږۀ. يعنی ويونکے يې مخاطب کړۀ دَ مخاطب ضميرونه بللے شۀ. لکه ته (واحد) تاسو (جمع).

(۴) هغه ضميرونه چې دَيوې خبرې کونکے يا کونکۀ يې دَخپلو نامو په ځائے استعمال کړۀ. دَمتکلم ضميرونه بللے کيږۀ. لکه. زۀ (واحد) مونږ (جمع)

توری يا حروف

تورے يا حرف: دا هغه کلمه ده چې نه خو څه کار فعل وۀ او نه دَ څه څيز نوم وۀ. خو اسمونه او فعلونه او

جملې یو ځائے کوۀ۔ چې پوره معنې اؤ مطلب یې ځرګندشۀ۔ دَ تورو دېر قسمونه دۀ دَ ځنې ذکر کوؤ۔
دَ جاریا دَ جر توری: دا تورۀ هم دا سمونو معنی د۔ فعل یا مشابه فعل سره یو ځائے کوۀ۔
دَ جار تورۀ دادی: کښې۔ پرې۔ باندې۔ په۔ پرې باندې۔ پر۔ نه ځخه۔ ترې۔ ترېنه۔ سره۔ لره۔ له۔ دَپاره۔ له پاره۔ تر۔ پورۀ۔ لا۔ راسې۔ داسې۔
دَ عطف تورۀ: هغه تورۀ دۀ چې اسمونوه یا جملې سره په یو حالت کښې راولۀ۔ داتورې دا لاندینۀ دی اؤ۔ هم۔ چې۔ بیا۔ لادَلاسه۔ یالا۔ بلکې
دَ تردید تورۀ: کوم تورۀ چې په دوه ؤ ځیزونو کښې یو یا دواړه رد کوی۔ یا یې نفۀ کوۀ۔ دَ تردید تورۀ بللے شۀ۔ دَ ترید تورۀ دادۀ۔ یا۔ یاخو۔ کۀ کنې
دَاستثنا توری: کوم تورۀ چې ځنې ځیز (یا ځیزونه) دَ نورو ځیزونو نه جدا کوۀ۔ دَ استثنا تورۀ بللے شۀ۔ هغه تورۀ دادۀ۔ بې۔ بې له۔ سوا۔ بغیر۔ مګر۔ خو کنه۔
دَ علت یا دَ تعلیل تورۀ: هغه تورو یا کلموته وائۀ چې داسې جملې یو ځائے کوۀ۔ چې په یوه جمله کښې دَ بلې جملې سبب بیان شوے وۀ۔ دَعلت تورۀ دادۀ ځکه۔ چې۔ ځکه چې۔ دَ دې دَپاره له دې ـ ـ ـ له دې جهته۔ له دې وجې۔ ولې چې۔
دَشرط او جزا توری: هر کله چې یو کار په بل کار باندې اړوۀ نو چې کوم کار باندې انحصار وۀ یعنی دَ موقوف علیه په سر کښې چې کوم تورے راوستے شۀ۔ هغه دَ شرط تورے بللے شۀ۔ اؤ کوم کار چې په بل اړوۀ دَ هغې په سر کښې دَ جزاتورے راوړے شۀ۔ دَ شرط توری دادی۔ چې۔ کۀ۔ کۀ ځۀ۔ کۀ ځۀ هم۔ هر چې۔ تر ځو۔ ځو چې۔ تر ځو پورې۔ ځۀ وخت۔ تر ځۀ وخته۔ کۀ چرې۔ هر کله چې۔ ځنګه ځنګه چې۔ چې ځۀ۔ کۀ چرې۔ وغیره۔

.........................

مرکبات ناقص: دَ دوه ؤ یادَ دوه ؤ زیاتو کلمو یو ځائے کولو ته ترکیب وائۀ اؤ په ترکیب چې کومه خبره یا جمله جوړه شۀ هغې ته مرکب یا کلام وائۀ۔ مرکب یا کلام دوه قسمه وی (۱) ناقص(۲) ناقص مرکب هغه ته وائۀ چې ځه پوره خیال یا مطلب ترې نه ځرګندیږۀ۔ یعنی داسې مرکب چې اورېدونکے ترې پوره فائده وانۀ خستې شۀ۔
مرکب اضافی: هغه مرکب ته وائۀ چې یوه کلمه پکښې بلې کلمې سره ځه نمیګړے شان تعلق لرۀ۔ دې نیمګړی شان تعلق ته اضافی وائۀ۔ لکه دَ مهابت خان جومات" دَ رحمان بابا دیوان۔ په دے مرکب کښې "جومات" مضاف دے۔ "مهابت خان" "مضاف" الیه دے او "دَ" دا اضافت تورے دے۔ دغه شان دیوان مضاف دے رحمان بابا مضاف الیه "د" دَ اضافت تورے دے۔
مرکب توصیفی: دَ کلماتو هغه مرکب ته توصیفی مرکب وائۀ په کوم کښې چې یوه کلمه دَ کلمې ځه صفت یا خصوصیت بیانوۀ لکه تکړه زلمے۔ ښکلې جینۍ۔ شوم سړے۔ بدرنګه ښځه۔ په دې کښې تکړه۔ ښکلې۔ اؤ شوم ځه صفتونه اؤ خصوصیتونه ښائۀ۔ دغوټکو ته صفت وائۀ۔ دا صفتونه دَ زلمی۔ جینۍ۔ سړی۔ اؤ ښځې دۀ نو دغوته موصوف وائۀ۔
مرکب عطفی: عطفی مرکب هغه مرکب ته وائۀ چې پکښې یوه کلمه دَ بلې سره دَ عطف دَ تورۀ په ذریعه یو ځائے شوۀ وۀ۔ ظفر او حامد۔ قلم اؤ مشوانی۔ په دې کښې اولنو کلموته معطوف علیه اؤ وروستنو کلموته معطوف وائۀ "اؤ" پکښې دَ عطف تورے دے۔
مرکب جاری: دَ جار توری چې کومې کلمې سره راشی هغې ته مجرور وائۀ لکه په کوټه کښې۔ له پېښوره۔ ترجماعته۔ پرونه راسې۔ اؤ داسې نور۔ دے ته مرکب جاری وائی۔ خو بالعموم ورته "جار مجرور" وائۀ۔
اسمیه جمله: هغه جمله چې پکښې مسند او مسندالیه دواړه اسمونه وۀ۔ ورسره ناقص فعل راغلے وۀ۔ اسمیه جمله ورته وائۀ په اسمیه جمله کښې مسند الیه ته اسم اؤ مسند ته خبر وائۀ ۔ په اسمیه جمله کښې دَ مسند اؤ مسند الیه (اسم اؤ خبر) نه علاوه ناقص فعل هم وۀ۔
فعلیه جمله : فعلیه جمله هغه جملې ته وائۀ چې مسند الیه خو یې اسم یا دَ اسم قائم مقام وۀ۔ اؤ مسند یې فعل

Scanned with CamScanner

لکه عزیز راغے۔ یوسف خاندهٔ۔ زهٔ به ځم۔ په دې جملو کښې عزیز اؤ یوسف اسمونه دهٔ۔ اؤ "زه" د اسم قائم مقام دے۔ دادرې واړه مسند الیه دی۔ اؤ "راغے" "خاندی" اؤ "به ځم" مسندونه دهٔ۔ په فعلیه جمله کښې مسند الیه ته ۔۔۔ اؤ مسند ته فعل وائۀ۔ لکه په برنو مثالونو کښې "عزیز" "یوسف" اؤ "زه" فاعلان وڅاو راغے۔ خاندهٔ اؤ به ځم فعلونه۔

اسمیه جمله:۔

"توره تبره ده"

توره۔۔۔۔۔۔۔مبتدا} دَ مبتداء خبر اؤ ناقص فعل

تبره۔۔۔۔خبر په یوځائے کیدو اسمیه جمله شوه

ده۔۔۔۔۔ناقص فعل

(۲) فعلیه جمله:۔

"بلبل چغیږی"

چغیږی۔۔۔۔۔۔فعل} دَ فعل اؤ فاعل په یو ځائے کیدو

بلبل ۔۔۔۔۔فاعل فعلیه جمله شوه

## دنمونې خطونه

دَپلار په نوم خط (دَ امتحان باره کښې)

له کرک څخه

۱۲اپریل کال ۲۰۱۲

محترم باباجانه!

اسلام علیکم۔ عرض دا دے چې ستاسو رالیږلے شوے خط راغے۔ تاسو راته دا لیکلی دی چې زه درته دَ خپل کلیز امتحان باره کښې ولیکم۔ نو عرض دا دے چې تراوسه پورې تولې درې (۳) پرچې شوۀ دهٔ۔ یوه دَ انګریزۍ یوه دَ ریاضۍ اؤ یوه دَ پښتو۔ دَ الله تعالیٰ په فضل دغه درې واړه پرچې ډېرې ښې شوې دهٔ۔ په ریاضۍ کښې خو مې پوخ باور دے چې سل په سل نمبرې به واخلم اؤ په نورو کښې هم په سلو کښې دَ اتیا نمبرو حاصلولو اُمید لرم۔

دَ باقۀ پرچو دَپاره تاسو ته لیکم چې دَ خدائے تعالیٰ نه زما دَپاره دُعاګانې کوئ په راتلونکې وخت به درته په بل خط کښې دَ باقې پرچو تفصیل ولیکم۔ زه دَ سبانۍ پرچې دَپاره په تیارۀ کولو کښې لګیائم۔ څکه نور دا وخت نور تفصیلات نه شم لیکلے۔ مورته مې سلامونه۔ اؤ ماشومانو ته دَ مینې پېرزوینې۔ والسلام

ستاسو منونکے زوئے۔

وقاص محمد ترین

---

مورته خط (دَ بیمارۍ پوښتنه کول)

له بنوں څخه

4اپریل کال 2012

کرانې اؤ عزت مندې مورې!

السلام علیکم ستاسو خط راغے۔ ستاسو دَ خط په راتللو خوشحاله شوم، خو په لوستلو مې زړه ډېر زیات خفه شو، چې تاسو راته دَخپلې ناجوړتیا لیکلۀ دی۔ الله دې وکړی چې ستاسو ناروغۀ ختمه شوې وۀ۔ مهربانۀ وکړئ۔ اؤ بل خط کښې راته دَ خپل طبیعت باره کښې په تفصیل سره ولیکئ۔ تاسو زما باره کښې پرېشانه کېږئ مه۔ زه په هر لحاظ روغ جوړ اؤ خوشحاله لریم۔ خپل کار په ښه توګه کوم۔ خپل سبق وائم اؤ پوره

Info

Scanned with CamScanner

پوره کوشش کوم۔
په چوټیانو کښې به کورته راځم۔ اُمید دے چې بابا جي هم ماسره يو ځائے راشي۔ ورو ماشومانو ته د مينې سلامونه۔ او الله دې وکړي۔ چې ستاسو روغه ځته زمونږ د دعاگانو دپاره تر ډېره سلامته وي۔ په واپس خط کښې راته خامخا د خپل طبيعيت باره کښې خبرراکړئ۔ اللهٔ موسلامته ساتي۔ والسلام
ستاسو منونکے زوئے۔
ولی الله

## تره ته خط

له لکی مروت ځخه
2اپريل کال 2012

گرانه کاکاجي!
السلام عليکم۔ عرض دا دے چې زهٔ روغ جوړ يم او الله دې وکړي چې تاسو هم روغ جوړ يئ۔ نور نو حال دا دے چې تاسو به په دې لوستلو خوشحاله شئ چې ما په امتحان کښې په خپل کلاس کښې وړومبے پوزيشن تر لاسه کړے دے۔ او لکه چې تاسو راسره لوظ کړے وو۔ چې که په کلاس کښې دې پوزيشن واخستو نو يو غوره تحفه به درکوم۔ نو په دغه وجه تاسو ته دادرياد دوم چې ما خو اس په خپل کلاس کښې وړومبے پوزيشن حاصل کړو۔ او ستاسو نمبر دے۔ زه ستاسو د تحفې په طمع يم۔ او اُميد لرم چې ځنګه اوزکار شئ نو ما به په خپله تحفه ونمانځئ۔ ټولو ورو او لويو ته سلامونه او ستاسو د ښه صحت په هيله۔ دالله په امان
ستاسو ورارهٔ
راشد

## دوست ته د مبارکۍ خط

له مينګورې ځخه
5اپريل کال 2012ء

گرانه ايمل خان!
السلام عليکم۔ پرون خبر شوم چې تاسو په خپل کليز امتحان کښې ډېرې ښې نمبرې تر لاسه کړې او په خپل سکول او خپل کلاس کښې مو وړومبے پوزيشن تر لاسه کړے دے۔ زه ستاسو په دغه کاميابۍ او اعزاز ډېر زيات خوشحاله يم۔ او تاسو ته د زړهٔ له تله مبارکي درکوم۔ دا ټول ستاسو د محنت نتيجه او ستاسو د استاذانو او مور پلار د دُعا گانو برکت دے۔ او که چرې تاسو دغه شان محنت جاري وساتلو نو انشاء الله چې کاميابي به په هر قدم ملګرتياکوي۔ الله دې وکړي چې هم دغه شان کاميابۍ مو د ژوند په هر ډګر ملګرې شي۔ والسلام
ستاسو مخلص (طيب)

## خپلې سهيلۍ ته د خپلو پاس کيدو باره کښې خط

له نوښار ځخه
3اپريل کال2012ء

گرانې کشمالې!
السلام عليکم ۔ عرض دا دے چې دلته خيريت دے۔ او الله دې وکړهٔ ، چې تاسو هم خير خيريت سره يئ ۔ زهٔ مې غوښتل چې تاسو سره خپله خوشحالۍ شريکه کړم۔ تاسو ته به ياد وي ،چې دا ځل په 31مارچ کال 2012ء چې کله نتيجه اووتله ، نوما پکښې په خپل کلاس کښې دويم پوزيشن واخستو۔ زه هم ډېره خوشحاله ووم۔ او مور پلار مې ډېر خوشحاله شول۔ ټولو خپلو خپلوانو په مينه مبارکۍ راکړې۔

Info Hub HRMS SIS ED

Scanned with CamScanner

خوشحالی په دغه موقع ما غوښتل چې تاسو ته هم اطلاع درکړم ـ او تاسو خوشحاله شئ. الله دې وکړه چې دغه شان خوشحالی په تاسو هم راؤله. نور دا چې خپلې ورې خور او مورته دې زماله اړخه سلامونه. او دَروغ جوړ رسیدو په هیله درنه رخصت غواړم. دَ الله په امان.

ستاسو خوږه ملګرې

ملاله

## دِرخواستونه

### دَچوټی دَپاره درخواست

په خدمت کښې دَ ښاغلی پرنسپل صاحب دَ ګورنمنټ مډل سکول خوېشګی بالا

جناب عالی!

ډېر په ادب سره عرض کوم چې یو ډېر ضروری کار مې پېښ شوے دے چې دَ هغې په وجه نن ورځ سکول ته دَ حاضرېدو څخه معذوره یم. ځکه نو صرف دَ نن ورځې دَپاره چټې راکړئ. ډېره ډېره مننه.

لیک نېټه 2/5/2012

عرض کونکے

ستاسو تابعدار شاګرد ذاکر

دَ اوؤم جماعت رول نمبر17

ګورنمنټ مډل سکول خوېشګی بالا

.......................................

### دَسرټفیکیټ حاصلولو دَپاره درخواست

په خدمت کښې دَ پرنسپل صاحب دَګورنمنټ هائیر سکینډری سکول اکبر پوره

جناب عالی!

ډېر په ادب سره عرض کؤم چې زما دَپلار بدلی له دې ځایه شوے ده. او مونږ په کډه روان یو. ځکه نو ستاسو په خدمتِ کښې عرض کؤم چې ماته دَ سکول دَ پرېښودو سرټیفیکیټ راکړئ. چې زه پرې هلته خپله تعلیمی سلسله جاری وُساتم.

لیک نېټه 3/5/2012

ډېره ډېره مننه

عرض کونکے

ستاسو منونکے شاګرد. محمود عالم. دَ اووم جماعت

ګورنمنټ هائیر سکینډرۀ سکول اکبر پوره

.......................................

## قیصې

### دَ لالچ انجام

یو ځل درې ملګری په سفرروان وُ. چې په لاره یې دَ راپوډکه تبلیۍ بیا مونده. درې واړه په دې صلاح شول چې خپلو کښې یې برابر برابر تقسیمو وُ. خو اول چرته خوراک پکار دے. دوې یو ملګرے بازارته دَ روټۍ راوړلو دَپاره ولیږلو او دوه ورته دَ یوې وُنې لاندې کښېناستل. دغو دواړو په خپلو کښې سره اوونیل چې زمونږ دغه ملګرے چې روټۍ راوړلو له تلے دے. چې کله راشۀ. نومونږ به یې کړو او روپۍ به مونږه دواړو سره اوویشو. بل اړخ ته یې هغه ملګرۀ اووے چې دوۀ دواړه خوخبر نه دۀ په روټۍ کښې به ورته زهر واچؤم او چې کله دوۀ دغه روټۍ وخورۀ نو دواړه به مړه شۀ او روپۍ به یوازے ماته پاتۀ شۀ. نو هغه چې روټۍ واخسته نو پکښې یې زهر ګډ کړل او دَدوی خواله راغے. خو چې دے ځنګه راغے نو هغوی دواړه پرۀ راپاځېدل او دے یې اووژلو. پس له هغې

يې هغه ټېرو ډکه ووډې، وُخوړه لږ ساعت پس هغوی دواړه هم مړه شول۔ او روپۍ په ځانے پاتې شوې۔
نتیجه۔ دَلالچ انجام خراب وۀ۔

## په اتفاق کښې برکت وی۔

دَ یو بوډا سړۀ دَرې (۳) زامن وُو۔ خودرې واړه بې اتفاقه وُو۔ او په خپلو کښې سره هر وخت په جنګ جګړو اخته وُو۔ بوډا سړے بیمار شو۔ کمزورے شۀ۔ او باور یې راغے چې دا بیماری دَ مرګ بیماری ده۔ خو دَ زامنو ورسره ډېر فکر وُو۔ هغه درې واړه زامن راوبلل او دَلرګو یوه ګېډۍ یې ورکړه او هر یو ته یې اووې چې دا ماته کړئ۔ هغوۀ ډېر زور او کوشش وکړو خو یو هم دَلرګو ګېډۍ ماتې نه کړې شوه۔ بیا بوډا ګېډۍ یو یو لرګے کړو او دوۀ ته یې اووے چې دا مات کړئ۔ هغوی ښه په آسانه دغه ټول یو یو کړے شوے لرګی مات کړل۔ بوډا پلار خپلو زامنو ته اووې چې اتفاق کښې برکت وۀ۔ کله چې لرګۀ یو ګېډۍ وه۔ نو نه ماتېدل او چې لرګۀ ځان ځان له شول نو په آسانه مات شول۔ دغه رنګ که تاسو په اتفاق او یو والۀ سره یې کامیاب به یې اوکه ځان ځان له شوئ نو بیا به تباه برباد شئ۔ زامنویې ورسره لوظ وکړو چې مونږ به په اتفاق ژوند تېروُو۔ نتیجه: په اتفاق کښې برکت وۀ۔

.................................

## چې څه کرې هغه به رېبې

وائۀ چې په یو ښار کښې یو سودګرے وُو۔ یو ځل چرته بل ښار ته دَ سودګرۍ دَپاره تلو۔ خو ورکره ډېره اوسینه وه۔ نو دَ یو دوکاندار دوست سره یې هغه اوسپنه امانت کېښوده۔ سوداګر په سفر لاړو۔ او څو میاشتۀ پس وطن ته پستنه راغلو۔ او دَ خپل دوکاندار دوست نه یې امانت اوسپنه وُغوښته۔ خو هغه دوست یې ورته عجیبه خبره وکړه۔ چې آشنا دافسوس خبره ده، خو ستا هغه اوسپنه زمونږ په کور کښې مږوو خوړه۔ سوداګر په دغه بهانه او دروغو پوهه شۀ خو هغه ته یې اووې چې بس اوشوه۔ دا ستا دَ وس نه بهروه او الله ته به داسې منظوره وه۔

څو ورځې پس دغه سوداګر دَدغه دوکاندار یو ماشوم زوئے چرته غائب کړو۔ دوکاندار په زوئ پسې ګرځېدو او په سوداګر دوست باندې پېښ شۀ۔ سوداګر دوست ورته اووے چې آشنا! ولې داسې چرت دې خراب دے؟ خبر خو دے کنه؟ دوکاندار ورته اووے چې زوئے مې نشته۔ غائب دے هېڅ پته یې نه لګی۔ په هغه پسې لټون کڅم۔ سوداګر ورته اووے چې ماته معلوم دے۔ اوس اوس ماولیدل چې ستا زوئے یو ټپوس (مارغه) په پنجو کښې پورته کړے وُو۔ او په هوا روان وُو دوکاندار ورته اووې آشنا! ته راپورې ټوقې کوې۔ په ماڅۀ حال دے او ستا راپورې خندا کېږۀ۔ داسې هم چرته شوی دی۔ چې ټپوس (مارغه) دے ماشوم پورته کړے شۀ؟ نو سوداګر ورته اووے چې آشنا! خفه کیږه مه په کوم وطن کښې چې مږې اوسپنه خورې شۀ نو په هغه وطن کښې خوټپوس ماشومان هم اوړے شۀ۔ دوکاندار ډېر ملامته شو۔ هغه خپله اوسپنه بیرته ورکړه او سوداګر ورله ماشوم ورکړو۔ او ورته یې داهم اووے چې آشنا! یاد لره چې څه کرې هغه به رېبې۔

## <u>مضمونونه</u>

### (۱) قائداعظم محمد علی جناحؒ

قائداعظم محمد علی جناح په 25دسمبر کال <u>1876ء</u> کښې په کراچۍ کښې زېږېدلے وُو۔ دَ دوی پلار جناح پونجا یو شتمن سوداګر وو۔ چې په کراچۍ کښې یې دَ څرمنو کاروبار کولو۔ دوی ورومبۍ زده کړه په کراچۍ کښې او په ممبۍ کښې وکړه۔ او بیا دَ اعلیٰ زده کړې دَپاره انګلستان ته لاړو۔ هلته یې دَ بېرسټرۍ امتحان پاس کړو او په کال <u>1896ء</u> کښې وطن ته راستون شو۔ او په ممبۍ ښار کې یې وکالت کولو۔
لـه بده مرغه په دغورو خو کښې دَدوی کورنۍ دَ مالۀ ستونزو ښکار شوه۔ ځکه نودَ مجبورۍ له کبله یې سرکاری نوکرۀ شروع کړه۔ او په ممبۍ کښې محسټرېټ وټاکلے شۀ ۔ خو دَنوکرۍ پابندۍ یې دَ طبیعیت خلاف وه۔ نو څو میاشتې پس یې استعفیٰ ورکړه۔ او بیا یې وکالت شروع کړو۔ او ډېر زردَ ښار دَ سر په وکیلانو کښې حساب شۀ۔ دَقائداعظم دَسیاست سره دلچسپۀ وه۔ او دَ وطن او قام دَ خدمت جذبه یې لرله هم دَ دغه جذبې دَلاندې په کال <u>1919ء</u> کښې په انډین نیشنل کانګرس پارټۍ کښې شامل شۀ ۔ په دغه زمانه کښې صرف یوه کانګرس پارټي وه۔

Scanned with CamScanner

په دغو ورځو کښې قائداعظم د هندوانو او مسلمانانو د یو کولو او یووالے ډېر آرمانه خو ولې بیا هغه محسوسه کړه چې کانګرس باندې تنګ نظره خلق قابض دی۔ او زیات نه زیات د هندوانو د مفاداتو خیال ساتۀ۔

د مولانا محمدعلی جوهر د مړینې نه پس قائداعظم محمد علی جناح د مسلم لیګ صدر وټاکلے شۀ او یوه ورځ داسې راغله چې د دوی په برکت مسلم لیګ د ټولو مسلمانانو یوه نمائنده پارټی جوړه شوه۔ د کانګرس تنګ نظرۍ اوس ښه څرګنده شوې وه۔ او مسلمانان ترې نا امېده شوی وو۔ ځکه په 23 مارچ کال 1940ء کښې د مسلم لیګ د لاهور په کلیز اجلاس کښې مسلمانانو د یو بېل وطن پاکستان غوښتنه وکړه۔ او بیا د قائداعظم محمد علی جناح په مشرۍ کې مسلمانانو د پاکستان تحریک اوچلولو۔ او هم د هغوی د کړاو محنت او جذبې په برکت په 14 اګست کال 1947ء کښې مسلمانان د یو خپل آزاده خپل واک وطن پاکستان خاوندان شول۔

قائداعظم د پاکستان وړومبے ګورنر جنرل وو۔ د پاکستان د جوړېدو نه پس هغوی د دے ملک د ودانولو ابادولو او ښه کولو د پاره شپه ورځ کار وکړو۔ او صحت یې خراب شۀ او څه موده د نا جوړتیا نه پس په 11 ستمبر کال 1948 کښې وفات شۀ ۔د دوی مقبره په کراچۍ کښې ده۔ او د دوی نوم به د پاکستان د نوم سره یو شان ژوندے وۀ۔

## رحمان بابا

د رحمان بابا خپل نوم حضرت عبدالرحمان بابا وو۔ رحمان بابا د پښتو ژبې هغه لوئے شاعر دے چې هر څوک د هغه د۔ نوم نه خبر دۀ۔ او د ډېرې مینې او عقیدت نه ورته خلق "بابا" وائۀ۔

رحمان بابا د پېښور سره خوا کښې په بهادر کلې کښې پېدا شوے وو۔ د خپل وخت ټول علمونه یې حاصل کړې وو۔ او د الله تعالیٰ په عبادت کولو کښې ډېر وړاندې وو۔ هغه په علم ادب او عبادت کښې خپل وخت تیرولو۔ او د شاعرۍ په ذریعه یې خلقوته د نېغې لارې ښود نه کوله۔

د رحمان بابا د پلار نوم عبدالستار وو۔ او د مومند قبیلې سره یې تعلق لرلو۔ خو د رحمان بابا شهرت د خپلې خوږې او د نصحیت نه ډکې شاعرۍ په وجه دے۔ او دغه شاعرۍ هغه د ټول اولس په زړونو کښې ژوندے ساتلے دے۔

د رحمان بابا فقط یو کتاب "درحمان بابا دیوان" د هغوی یادګار دے او دا کتاب ډېر چاد خوښې کتاب دے۔ دا کتاب د ملیانو ۔ امیانو ښځو او سړو۔ ځوانانو او زړو ټولو خوښ دے۔ ځکه چې رحمان بابا ډېر چا شاعر دے۔ د ډېرې طبقې شاعر دے۔ او د هر چاورسره مینه ده۔

د رحمان بابا زیات حالات معلوم نه دۀ۔ تر دې پورې چې د پېدا کېدو او د مرګ نېټې یې معلومې نۀ دی۔ خو دومره چې د کال 1123ھ پورې یقین ژوندے وو۔

د رحمان بابا مزار د پېښور سره نیزدو په هزارخانی کښې دے۔ هر کال یې په مزار عرس او مشاعره کولے شي۔ او شاعران دوی ته د عقیدت پېرزوینې وړاندې کوۀ۔

درحمان بابا یو څو شعرونه دادې۔

کوهے مۀ کنه د بل سړي په لار کښې — چرې ستا به د کوهۀ په غاړه لار شۀ
هغه ناوې چې په خپله ښائسته نۀ وۀ — څوک به ئې څۀ کاندې ښائسته د مور اونیا
ترورځ تېرې اوبۀ بیړته نه جاروځۀ — نه جاروځۀ تېر ساعت په بیرته بیا
چې په لوح محفوظ کښې ښکلے لېونے وۀ — په تعلیم د معلم به هوښیار نه شۀ
انسانیت څۀ په دولت نه دے رحمانه — بت که جوړ شۀ د سرو زرو انسان نۀ شۀ

واړه د خپل ځان په نظر ګوره که دانا یې
اے عبدالرحمانه! جهان ټول عبدالرحمان دے

❁❁❁❁❁❁❁❁❁

Scanned with CamScanner